(۵)
8/1968
۱۳۴۷
اسد ۵

د غالیو اوبدلو



ددې ګڼې مضامین

د بې علمي سره مجادله ۱ مخ
پر شعر یو تحلیلي نظر ۲ «
کندهار ۳ «
ډراماټیک ادبیات .. ۷ «
ملت ۹ «
برنارد شاو ۱۳ «
دادب وږمې ۱۴ «
زموږ کارونه ۲۰ «
په جراحي کې ... ۲۱ «
د نن ورځې وفلسفې ته ۲۲ «
رقابت ښه اړخونه .. ۲۴ «
اشتباه ۲۶ «



د غالیو اوبدلو لرغوني صنعت چې دافغانستان دمهمو لاسي صنایعو څخه شمېرل کیږي او زموږ د وطن مهم صادراتي قلم تشکیلوي په دې وختو کې د دغه نفیس صنعت انکشاف ته خاصه توجه سوې ده چې دادي د کندهار د وړیو اوبدلو په فابریکه کې د غالیو اوبدلو د کڼې دوه ویشت دستګاوي په کار لوېدلي دي.

د توری بلبلی آواز

ما ستا څخه هیڅ نه غوښته؛ ما تا ته خپل نوم هم ونه وایه چې ته رخصتېدلی نو زه پټه خوله ولاړ وم؛ زه دهغه ځاه پرغاړه یوازی وم چې هلته د ونو سیوری مثلث شکل موندلی ؤ او ښځو خپل داو بو ډک منګی کوروته وړل؛ هغوی ماته رانژدې سوی ویې ویل:

« زموږ سره راځه داده غرمه سوه ».

خو زه له ټنبلی څخه پخپل پرېشانه تخیلاتو کی ډوبه سوی ولاړه وم .

ته چې راغلی ستا د قدمونو آواز ما وانه روېد ؛ تا ماته په خورا غم آلودو سترګو کاته؛ تاچې له ما سره ورو، ورو خبری کولی او په ستړی آواز دی وویل:

«آه زه یو ټری پردېس یم.»

زه له خپل ورځنی خوبه هولکی راوینه سوم او له خپل منګی څخه می ستا په غبرګه کی او به در توی کړی؛ دونو پاڼی زموږ پرسر رپېدلی .

دیوې غیرمرئی تاریکی څخه د توری بلبلی آواز راخوت اود سړک له پېچو مو څخه دبا بلا دګلو وږمه پورته کېدله...

زه له شرمه پټه خوله ولاړه وم، چې تا زما دنامه پوښتنه راڅخه وکړه واقعی ما ستا دپاره څه کړیدی چې تا زه یاده کړم.

خودا یاد چې ما ستا دتندی ورکولو دپاره تا ته او به در کولی زما دزړه سره به تل وی او په ډېر خوند به ئې ساتی.

سهار شو، ناوخته دی چنچنو بیا خپلی سندری نوی کړی د «نیم» دونو پاڼی په سر رپېږی او زه ناسته تراوسه لا په هغه فکر کی یم .

«تاګور»

LIBRARY OF CONGRESS
ISLAMABAD OFFICE
18 MAR 2005
6 CONTINUATION 6

کندهار

د ۱۳۴۷ لمریز کال د زمری میاشت

د بې علمی سره مجادله

بی علمی په اجتماع کی
یو داسی لوی آفت دی چی
په ټولنه کی لوی بد بختی او
کړاوونه زیږوی.

که د نړی د مترقی هیوادو
وننی انکشافاتو ته ځیر شو
او هغه پر مختګونه چی د
لرغونی تاریخ په ادوارو
کی د دوی په برخه سویدی
هغه ټوله د تعلیم او علم د
تعمیم ستره نتیجه ده چی
بشری تمدن ئې په وجود
راوړی دی او د علمی تحقیقاتو
له مخی نن ورځ بشر ته د علم
په رڼا کی دا قدرت میسر
شو چی په ماورای فضا کی
هم خپلو معلوماتو ته وسعت
ورکړی او د علمی تحقیقاتو
له لاری هغه رازونه کشف او
څرګند کړی کوم چی د
کائناتو په لویه ساحه کی
تراوسه پوری مرموز پاته
دی خو د تکامل و نهایی مرحلی
ته ځان ورسوی اوله هغه څخه
مطلوبه نتیجه په لاس راولی.

نن هغه وخت تېرسویدی چی
یو فرد دی بېله علمه څخه دی
ژوند و کړای سی ، د عصر
او زمانی مقتضیات دا ایجابوی
چی د ټولنی هر فرد باید ځان ته
یوه علمی او مسلکی پېښه غوره
کی ، فردی او اجتماعی وجایب
ښه ترا ادا کاندی او ایکمرغه
ټولنه هغه ده چی غړی ئې په
عالی سویه پوه ولری خودخپلی
پوهی په اندازه د بشری ټولنی
د بهبود لپاره د ښو اجتماعی
خدمت مصدر وګرزی خو که
یوازې د اجتماعی ترقی تشه
آرزو ورسره وی او د اجتماعی
خدمتو و سرته رسولو په لاره
ځان د علم او کمال په وسله نه
سامباله وی او د خپل شخصیت
وتکامل ته توجه نلری نو هغه
مشکلات چی د بی علمی او ناپوهی
په سبب دوی ور سره لاس او
ګرېوان دی له منځه ئې ایسته نه
کړی واضح خبره ده چی هم به
خپله او هم بی منسوبه ټولنه به
په ډول، ډول آفتونو اخته
وی.

نو باید وویل شی چی د دې
دردونو د تسکین او بیرته کولو
یوازنی عامل پوهنه او
علم دی چی لازم دی هره
وروسته پاته ټولنه د علم او
پوهی له لاری ځانونه د
تمدن و کاروان ته ورسوی.

زموږ په ګران هیواد
کی چی د تعلیم زده کړه په
وړیا توګه ده او متبوعه
حکومت د پوهنی د زده-
کړی په ملحوظ هر ډول
ممکنه وسایل برابر کړیدی
او د افغان ټولس هر فرد
کولای شی چی د تعلیم د
زده کړی په حصه کی بشپړه
برخه واخلی، نوموږ باید
دا ضرورت حس کړو چی د
بی علمی د مصیبت د زیان د
رفع کولو په غرض خپل
کوښښ ته دوام ورکړو ځو
د تعلیم د تعمیم په وسیله
چی زموږ لوی اکثریت
اوس هم د تعلیم د زده-
کړی څخه محروم پاته
دی د دغو کوښښو په
برکت سره تعلیم یافته او
دا نقیصه په چټکی سره
رفع سی.

لیکونکی: م. [عطائی]

(۳)

پر شعر یو تحلیلی نظر

د شعر دریم اصل

د شعر په باره کی چی موږ د انګلیسی معروف لیکوال جان ملتن دوه اصله مو تشریح او تفسیر کړل او

دا نتیجه مو په لاس ځینی راوړه چی ښه شعر هغه دی چی ساده ګی او بسیط والی ولری او د نفسانی لذاتو

پیرو وی، پدې روانه مقاله کی د نوموړی لیکوال دریم اصل څېړو چی د شعر لپاره آتش مزاجی د یو خاص اصل په حیث ټاکی.

په قدیمو ادبیاتو کی حماسه تر هر څه ډېره پالل سوې ده او د پالنی یو علت ئې هم داؤ چی حماسی

اشعار د آتش مزاجی په وجه د ښو ډېرو وختو لپاره ژوندی پاته سویدی او نن له قدیمی نړۍ څخه موږ ته په

ادبی میراث کی هغه اشعار ژوندی پاته دی چی آتش مزاجی لری.

ډېره قدیمه حماسه د یونانی شاعر [هومیر] په «ایلیاډ» او «اوډیسه» کی

ده او څرنګه چی پدغو آثارو کی آتش مزاجی پرته ده نو نن چی تقریباً درې زره کلن تاریخ لری بیا هم هېر نه دی. دغه رنګه د

غزنوی دورې په ادبی جنبش کی د فردوسی «شهنامه» یو اثر دی چی د شعر په لحاظ ئې آتش مزاجی مالګه ده، همدا رنګه د

پښتو ادب معروفه ویاړنه (حماسه) چی امیر کروړ جهان پهلوان ویلی ده: آتش مزاجی دا امتیاز ورکړیدی چی د پښتو ادب د فتح جوغه په سر کی ووهی.

په قدیمو حماسی اشعارو کی آتش مزاجی سته خو څرنګه چی په هغو کی نفسانی حدود د علیت تر قانون لاندی مغشوش او ورک

دی، نو زموږ د نننی جدلی قانون په اسلوب باید «ګونګ» هنرور ته ووایو خو په نسبی ډول ئې هغو اشعارو ته موثر وبولو چی له دغه دریم اصل څخه برخه نلری یا لږ برخه لری.

د یورپ په اجتماعی تاریخ کی هغه مهال چی په منځنیو پېړیو کی پر ټولو اجتماعی او هنری موسساتو د کلیسا سلطه خپره شوه، نو شعر له دغو درو سرو

اصلونو څخه خلاص سو یعنی ساده ګی او بسیط والی ئې په مرموزیت الیش سو، د نفسی لذت څخه بېګانه او د عینی جهان حدود ئې ګرده په لغته ووهل او د دې څخه علاوه هغه آتش مزاجی چی نشاط زېږوی بېخی پکښی نیستی سوه نو داؤ چی د هغه دورې اشعار که په یورپ کی وه پاکه په بل ځای کی نن هغه نه یوائی د بشری ذهن د رکود څرګندی نښانی بلل کیږی بلکی د بد شعر مثالونه هم ځینی جوړېدای شی.

په اتلسمه او نونسمه پېړی کی چی د سیاسی شرایطو بدلون اروپائی ولسونه د ملیت پرستی (نشنلزم) پر محور په څرخ کښېستل نو د دغی دورې شعر د آتش مزاجی آسمان ته وخوت خو څرنګه چی د عینی او ذهنی جریاناتو حد د ئې د نوی علمی اسلوب په چوکاټ کی نه تحلیلوی نو پدغو اشعارو کی نفسانی لذت ورو، ورو ورکېدی او د دې په اړخ کی ئې ساده ګی او بسیط والی د

نور د پشتی په دریم مخ کی

د محمد اسماعیل [زاهل] ژباړه «۳»

کندهار

د تاریخ په مختلفو دورو کی

نوئی د کندهار پاچا شاه حسین هوتکی ته استاځی راواستاوه اوله ده څخه ئی غوښتنه وکړه چی د نادرشاه د حکومت جبه پرځان قبوله او د سلام او احترام د پاره ئی اصفهان ته راشی . مګر شاه حسین د نادرشاه دا غوښتنه په کلکه رده کړه .

نادرشاه وروسته د دې جواب تر اخیستلو پدې وپوهېدی چی د کندهار پښتانه پخپله خوښه د ده باداری او جبی ته غاړه نه ایږدی نوئی د دوی د مغلو بولو او له پښو اچولو د پاره په لازمو اکمالاتو او لاروچارو لاس پوری کړ ، نو هغه ؤ چی په ۱۷۴۷م کال کی د یولک-کسیز لښکر سره د کندهار د حملی او نیولو په نیت د سیستان له لاری څخه مخ پر کندهار حرکت راوکړ . شاه حسین چی د نادرشاه پدې عزم خبر شو ژر تر ژره ئی په دفاعی چارو پیل او پوره ترتیبات ئی ونیول .

نادرشاه په ۱۱۴۹ هـ کال د شوال د میاشتی په ۴ نېټه د سیستان له لاری څخه و «لخک او دلارام» ته راغی ، او د شوال په ۱۸ وګرشک ته راورسېدی . د ګرشک د کلا ساتونکو ښه مدافعه وکړه ، مګر نادرشاه کلا محاصره کړه او یوه خونړی جګړه وشوه په پای کی نادرشاه د کلا برجونه سوری او ساتونکی ئی تار په تار او کلا ئی ونیول .

نادرشاه د شوال په ۲۱ وروسته تر ۳ ورځو سختو او خونړیو جګړو چی د شاه حسین د شل زر و نفر و ملی مجاهدینو سره ئی د هلمند د رود پر غاړه وکړه وې کولای شول چی د هلمند له سیند څخه را پوری وزی . شاه حسین چی د نادرشاه لښکر خپل د لښکر پنځه چنده او ډېر غښتلی ولیدی عزم ئی وکړ چی بیرته کندهار ته راوګرځی او د کلا په ټینګولو پیل وکړ .

نادرشاه وروسته د هلمند تر تېر بدلو د «شاه اغا» وسیمی ته چی د کندهار د شمال غربی په ۵۰ کېلومتری کی پرته ده ولاړ او هلته ئی ۱۲ ورځی تیری کړې ، وروسته ئی د ارغنداب د رود غاړه را واخیستله او د بابا ولی صاحب پر برابری ئی وغوښتل له سیند څخه پوری وزی ، خووې نه کړلای شول . شاه حسین چی خبر سو نادرشاه د ارغنداو د سیند غاړی ته راورسېدلی دی نوئی په شپه کی خپل د ښځنی لښکر سره یرغل پر وکړ نژدې وو چی د نادرشاه په لښکر ماتی ګډوه کړی خو پرسهار سو ، او شاه حسین غیرله دې چی پخپله هیله کامیاب شی بیرته ښار ته راوګرځېدی .

سبا شپه نادرشاه د کوهکران پرحد ګودر پیدا او د ارغنداو له سیند څخه پوری وتی او د «لکی غره» له بغله سره ئی پداسی حال کی چی د کندهار کلا د ساتونکو له خوا سختی ډزی او مقابله ورسره کېدله ځان ئی د کلا د ختیځ خوا ته ورساوه (د کندهار دښار کلا په هغه وخت کی د قیتول دغره پر لوړه څوکه جوړه سوی وه او د قیتول دغره ویوې کوښې ته اوس چهل زینه وایی) لومړی نادرشاه داسی فکر کاوه څرنګه چی له ګرشک

څخه بیا تر کندهار پوری د پښتنو له سختی مقابلی او دفاع سره نه دی مخامخ سوی نو د کلا نیول او په لاس راوړل هم کومه سختی او مشکلات نلری، مګر هغه وخت چی وکلا ته رانژدې او د پښتنو له استحکاماتو، جوش ؤ خروښ او جنګی احساساتو څخه خبر شو نو

وپوهېدی چی د کلا نیول څنګه چی ده خیال کاوه هغسی آسان کار ندی نو لدې سببه ئې عزم وکړ چی نو موړی کلا محاصره او د غذائی مواد و د رارسېدلو ټولی لاری پر بندی کړی څو د کلا د ننه خلک د لوږی او کاختی په زور ځانته تسلیم کی، مګر باالمقابل شاه حسین دومری خوراکی مواد او جنګی لوازم ذخیره او ساتلی وه چی بر سېره د ښار پر اوسېدونکو د شلو زرو عسکرو د پاره ئې هم د ډېری اوږدې مدې د پاره کفایت کاوه.

نادرشاه ښار کلا بند کړ، څرنګه چی وپوهېدی د کلا نیول داسی ژر امکان نلری نو د شېر سرخ په سیمه کی یو لوی او پراخ ښار جوړ کړ چی ښه بازارونه، حمامونه، مسجدونه (جماعتونه)، رباطونه قهوه خانی او هر څه ئې درلودل. او د ترنك له سیند څخه ئې او به ورته راوستلی او دا ښار ئې په «نادر آباد» موسوم کړ.

د قاضی عطاءالله خان د نظریی په اساس د نو موړی ښار په جوړولو کی د نادرشاه دوه مطلبه پراته وه: یو دا چی خپل د لښکر د استوګنی د پاره ئې ښار جوړولو ته اړه درلودل. بل دا چی نادرشاه غوښتل د دې ښار په جوړولو د کندهار خلکو ته دا ښکاره او ثابته کی چی دی د کندهار تر نیولو نه تېریږی او په هر قیمت چی وی باید وې نیسی.

که څه هم د نادرشاه دا نوی او لوی ښار د «نادر آباد» پنامه جوړ او پای ته ورسېدی، مګر د کندهار د ښار محاصره لا دوام درلود نادرشاه د زاړه او کلابند سوی ښار پر شاوخوا د رباط په څلورمه فاصله جنګی کوچنی کلاوی او ډېر برجونه جوړ کړل چی په هغو کی د نادرشاه پیش قراولان د خپلو توپو سره په څار بوخت وه څو له یوې خوا کلابند خلک د ښار د باندی ونه وتلای شی او له بلی خوا خوراکی مواد ښار ته راونه رسیږی.

د قاضی عطاءالله خان او محمد مهدی په روایت: د کندهار د ښار کلابندی یو نیم کال اوږده سوه او پدې وخت کی د نادرشاه یو شمېر عسکر چی په نورو کارو بوخت وه خلاص او فالتو شول او نادرشاه دغه فالتو پلټن د ښار په نیولو مؤظفه کړه، که څه هم د حملې کوونکو شمېر زیات شو مګر سره د هغه هم زړورو مدافعینو په کلکه

دفاع کوله، تر څو چی نادرشاه ته نور هوسا عسکر راوسېدل او نادرشاه د نوو او زړو عسکرو په اتفاق په یوې لویی او ډېری سختی حملی لاس پوری کړ.

د میرزا محمد مهدی په قول: سره د دې چی د نادرشاه د لښکر هوسا او تازه دمه عسکر ګړی په ګړی د تېری-

کوونکو و مرستی ته ورسېدل او پښتنو مجاهدینو له هیڅ خوا څخه د مرستی امید نه درلود، خو بیا هم تېری

کوونکو څو پلا له سختی ماتی او ګډوډی سره مخامخ سول.

په پای کی شاه حسین خپل له کورؤ کهول سره و قیتول ته ولاړ. څرنګه چی له یوې خوا د پښتنو ټول دفاعی قدرت پای ته ورسېدی او له بلی خوا د کندهار

اکثره سیمی د نادرشاه په لاس ورغلی وې او شاه حسین ته له هیڅ خوا څخه د هیڅ شی او مرستی امید نه ؤ پاته نو

غیر له متارکی بله لاره نه وه هغه ؤ چی سبا ئې د متارکی غوښتن لیك و نادرشاه ته ور

ولېږی او پدې ډول نادرشاه پر ټول کندهار تسلط پیدا کړ

نادرشاه وروسته تر متارکی شاه حسین سره دده د ټول کهول او خپلوانو حتی د اکا تر زامنو پوری «مازندران ته تبعید» او امر ئې وکړ چې د کندهار د زاړه ښار ټول دېوالونه او برجونه چې دغره پر لوړو برخو جوړ سوی وه ونړوی او له خاورو سره ئې برابر کړی. او پښتانه ئې مجبور کړل چې په نوی ښار یعنی نادرآباد کی استوګنه وکړی.

نادرشاه چې له اوله څخه لا د پښتنو زړه ورتیا او غښتلوالی دده زړه وړی و د هندوستان د پراخی او ارتی سیمی د حملی د پاره ئې د پښتنو ځلمیانو یو لوی لښکر جوړ او د کابل له لوری ئې پر هندوستان یرغل وکړ.

هغه وخت چې نادرشاه خپل د محافظینو (ساتونکو) د کپتان «سالار بیګ» له خوا ووژل سو نو «احمدشاه بابا» چې د نادرشاه له سردارانو او امیرانو څخه و په ۲۲ کلنی کی د کندهار د حکومت واکی په لاس کی ونیولی، هغه عسکری او اقتصادی قوت چې احمد شاه بابا پدغه وخت کی په لاس کی درلود عبارت له لس زرو سورلیو د نادرشاه خزانه او د کوه نور د الماس څخه و.

نوموړی پدغه قدرت او خپل شخصی لیاقت او استعداد د پښتنی قام ملګرتیا او مرسته په لاس راوړل. ده په ۱۱۷۴ هـ کال کی د کندهار د اوسنی ښار کار پای ته ورساوه او ددې د پاره چې د ښار مدافعوی قدرت ښه تر ازیات سی د ښار پرشاوخوا ئې یو ډېر لوی او پراخه دېوال راوګرزاوه.

احمدشاه بابا وروسته تر هغه چې په کندهار کی سلطنت جوړ کړ، ۲۶ کاله ئې پاچاهی وکړه او پدې مده کی ئې څو واره هندوستان ته سفر کړیدی، څرنګه چې احمدشاه بابا خپل د ټولو فتوحاتو قدرت او اکمالات د کندهار له ولایت څخه کول نو لدې کبله د کندهار نظامی او عسکری موقعیت د هېر پدو وړ نه دی.

د احمدشاه بابا تر مرګ وروسته هم کندهار خپل پخوانی خصوصیات وساتل، یوازی او یوازی «تیمورشاه» دومری وکړه چې خپل پایتخت ئې له کندهار څخه و کابل ته یووړ، او اغلب ګمان داسی کیږی چې دغه د پایتخت انتقال هم کومه عسکری جنبه نه درلوده.

وروسته تر تیمورشاه اوده د اولادې په وخت کی چې پښتنی امپراطوری له داخلی او خارجی ښورښونو او هرج ومرج څخه ډکه او ګډوډه وه، د کندهار ولایت خپل عسکری امتیاز ساتلی او په هر وخت کی کوښښ کړیدی چې د کندهار حساسه سیمه یوه لایق او باکفایته امیر ته وسپارله شی څو ددې ولایت له خوا څخه پښتنی امپراطوری په مشکلاتو اخته نشی.

هو! د بارکزیانو په وخت کی چې افغانستان د انګریزانو سره لاس اوګرېوان او په مجادله بوخت و انګریزانو خپل د حرکت او تعرض د پاره د کندهار لار وټاکله، سره ددې چې د کندهار لار نسبت د خیبر ولاری ته ډېره اوږده هم وه.

هغه وخت چې وزیر محمداکبرخان د انګریزانو سره په کابل کی په جګړو او شخړو بوخت و کندهار د انګریزانو د یوه مقتدر صاحب منصب «جنرال ستوت نات» له خوا اداره کیدی. هغه جنرال خپل موقف تر ډېره وخته پوری په کندهار کی وساتی، او حتی تر هغه وخت پوری چې کابل، جلال آباد، غزنی او زابل هم د انګریزانو له لاس څخه ووتل.

جنرال نات په کندهار کی هر خپل حال پاته ؤ او پدې سیمه کی ئې د خپلو عسکرو په واسطه ځان ټینګ کړی ؤ تر څو چی د انګریزانو په مقابل کی پښتنی قیام پوخ او خپل کمال ته ورسیدی. انګریزانو خپل دلښکر د وتلو امر صادر اوهغه جنرال هم له کندهار څخه ووتی.

په ۱۸۶۷م کال کی چی د امیر شیرعلیخان اود امیر عبدالرحمن خان په مینځ کی اختلاف اوشخړه شروع سوه، کندهار یووار بیا د عسکری جګړو او شخړو ډګر وګرځیدی. څو په پای کی د ۱۸۶۸م کال د جون په میاشت کی امیر شیرعلیخان کندهار ته راغی.

د پښتنو او انګریزانو (افغان وانګلیس) د دوهمی جګړې په وخت کی جنرال «ستیووارت او بودولف» په جنوبی جبهه کی د مسافی ډېر والی او مځکنی مشکلاتو په سبب ډېر ربړونه اوخواری ولیدلی او ددوی پر مختګ خوراډېر وخت ونیاوه، په پای کی ئې په ډېره سختی کندهار ونیاوه او د کندهار والی خپل د سپرولښکر سره د هرات خواته پرشا ولاړی، چی د کندهار په نیولو او ځینو نورو بریالیتوبو ګویا د پښتنو او انګریزانو د دوهمی جګړې لومړی مرحله د انګریزانو په ګټه پای ته ورسېده له.

بله پلا بیا په ۱۸۸۰م کال کی یعنی د میوند په جګړه کی د کندهار سیمه د جګړې او شخړی ډګر وګرزېدی اود پښتنی خاوری د زامنو د پاره ئې زړه ورتیا، سربازی او مېړانه د تاریخ په پاڼو کی په مشقی قلم ولیکل. د دې تاریخی افتخار عظمت او ارزښت د یوه انګلیسی تاریخ لیکونکی جنرال پدې لاندی جمله کی لیدلای سو.

دی وایی: «په ټولو جنګو او شخړو کی چی د انګریزانو او پښتنو په مینځ کی پیښی سویدی د میوند جګړه لویه اود انګریزانو د پاره یوه ښکاره ماتی شمېرل کیږی او پدې جګړه کی د یوې سختی اور ښتنی ماتی لکه د انګریزانو د نظامی شهرت پر لمن ولوېدله».

هو! دا چی د دې افتخاره ډکی جګړې تاریخی پهلوان او قهرمان څوك دی؟ ټولو محترمو لوستونکو ته ښکاره اوتر لمر سپینه ده چی د امیر شیرعلیخان دوهم زوی سردار محمد ایوب خان ؤ چی په هرات کی د یوه ربښتنی مشر او قائد په حیث د انګلیسی قواؤ په مقابل کی ودرېدی، د انګریزانو د مقابلی او جګړې د پاره ئې د همت او مېړانی ملا ټینګه وتړله او مخ پر کندهار راروان سو او د ابدی ویاړ ئې د پښتنو زامنو په نصیب کړ.

داوه د کندهار د ولایت عسکری بڼه او سوق الجیشی ارزښت د پخوا زمانی څخه بیا د امیر عبدالرحمن خان تر وخته پوری چی دلته په لنډ ډول وړاندی سوه څرنګه چی د امیر عبدالرحمن خان تر دورې راوروسته بیا تر ننني دورې پوری د کندهار د سیمی پیښی و هرچا ته ښه ښکاره او معلومېدی نو دهغو ولیکلو او روښانه کولو ته چندان ضرورت نه لیدل کیږی.

دا چی دغه ولایت په اوسنی بڼه اوراتلونکی وخت کی د عسکری نقطهٔ نظره او سوق الجیشی ارزښت له کبله څه اهمیت لری، دهغه تخمین او اټکل کوم سخت او مشکل کار نه دی.

«پای»

دوست ؤ دښمن

وخت او زمان که په کار، کوښښ او مشغولتیا سره تړسی د انسان وفاداره دوست دی او که برعکس په بیکاری او هوسائی کی تړسی د ژوند لوی غلیم دی.

د « ف، کاسب » لیکنه او تتبع

ډراماتیک ادبیات
او
په اروپا کی د هغه سیر

ډراماتیک ادبیات هغه تالیفات او آثار په ځان کښې باسی کوم چی د مکالمی او تأثر په ژبه لیکل سوی وی چی د خپلو مشخصاتو له مخی پر دوو دورو وېشل کیږی.

۱. لرغونی ډراماتیک ادبیات.
۲. معاصر ډراماتیک ادبیات.

د لرغونی یونان متفکرینو په خپلو کلاسیکو آثارو کی لاندنی درې موضوع - ګانی د یوه ډراماتیک اثر لازمی او لومړنی شرطونه بلل.

۱. د زمان یووالی (وحدت).
۲. د مکان (ځای) یووالی.
۳. د آکسیون یووالی.

په پخوانی روم کی چی تأثر ئې د یونان له تأثر څخه اقتباس کړی ؤ او زیاته مده ئې ډېر اهمیت درلود د منځنیو پېړیو په لومړیو وختو کی د کلیسا له خوا څخه چورسو او کلیسا خپل مذهبی تأثرونه منځ ته راوړل چی په هغه کی د یونان د اساطیرو ځای د مسیح او حواریونو ډرامو ونیوی. او په هغه کی لوړ ودرووحدتونو اساسی رول نه درلود.

د رنسانس په دوره کی ډرام لیکنه په انګلستان او اسپانیا کی د خپلی ترقی او تکامل و لوړی درجی ته ورسېدل او د نوی کلاسیسیم سبک منځ ته راغلی چی شکسپیر ئې لوی پیرو دی پدې باره کی زیات بحثونه سویدی.

تر رنسانس وروسته د کلاسیسیم دوره په فرانسه کی په بل شکل منځ ته راغله پدې وخت کی بیرته لوړ ودرو ګونو وحدتونو ځان سره ونیوی او د ډرام لیکنی اصلی جز وشمېرل سو.

د فرانسی د ډرام لیکونکو لکه «کورنی، راسین، مولیر» ټول آثار د درو ګونو وحدتونو پر اساس لیکل سوی وه د کلاسیسیم دوره په فرانسه او لو ېدیځه اروپا کی تر یوې پېړۍ زیات دوام وکړ تر څو چی په جرمنی کی لاکو ته او شیللر د هغی بشپړی ازادی تر تاثیر لاندی سول کوم چی په انګلستان کی شکسپیر منځ ته راوړی وه او ځینی هغه غنیمت آثار لکه «کیوم تل، اون کارلو لی داورلشان پېغله» او داسی نور پدغه دوره کی منځ ته راغلی دی. دغه دوره نو د روما- نتسیسم په نامه یادیږی چی لومړی په المان او وروسته ئې په فرانسه کی د زیاتو مخالفتونو سره سره نفوذ وموند او تکامل ئې وکړ. ددې سبک مهم نمایندګان ویکتور هوګو، شاتوبریان او مادام دواستان دی.

د ډراماتیک ادبیاتو ډولونه

په عمومی ډول ډرا- ماتیک ادبیات پر درو برخو باندی وېشل کیږی:

۱. تراژیدی.
۲. کمیډی.
۳. ملوډرام.

۱. تراژیدی:-
تراژیدی اصلا یوه یونانی کلمه ده او دوو کلمو څخه تشکیل سوی ده چی لغوی معنا ئی د «بزې آواز» دی او بنا ئی دا نوم دی هم پدې سبب انتخاب سوی وی چی لرغونو یونانیانو د مذهبی تشریفاتو او نمایشو د اجرا په وخت کی د وزې کالی اغوستل او لکه فرانسوی ستر لیکوال «بوالو» چی وایی:

هغه جایزه چی د تراژیدی ویوه ډیر هنرمند بازیگر ته به ورکول کېدل وزه وه.

ارسطو تراژیدی داسی تعریفوی: «هغه نمایش چی د خلکو د رحمنا کو احساساتو تحریك او د وحشت ایجاد ئی نفس ترمیم او جوړوی».

تراژیدی د نړی د مشکلاتو او ناوړه تیاؤ په مقابل کی د انسان تلاښ او کشمکش دی.

د تراژیدی قهرمان د یوه عالی مقصد د په لاس راوړو لو د پاره په یو لړ اقدامات و لاس پوری کوی او په ضمن کی ئی د داسی مشکلاتو سره مخامخ کیږی چی د هغه حل ئی په وس نه وی او په پای کی ماته خوری، نو ځکه د تراژیدی اصلی جوهر «مبارزه او جګړه ده».

تراژیدی چی به په لومړی سر کی لیکلی او یا به لوبول کېدل دستر و قهرمانو او شهزادگانو قصه به وه.

ارسطو وایی: د تراژیدی قهرمان باید زیات شهرت او بشپړه نیکبختی ولری.

چاسر انگلیسی ئی په تعریف کی وایی: «تراژیدی د قهرمانو او لویانو نکل دی چی په عین آرامی او هوسائی کی په بدبختی باندی لګیا او ژوندئی د سختیو سره مخامخ کیږی».

تراژیدی په انگلستان کی د الیزابت په وختو کی د شکسپیر په آثارو سره نوی شکل و موندیعنی د یونان تراژیدی به د افکارو او احساساتو او یا به ګاهی د بشر د سرنوشت او اتفاق (تصادف) ترمنځ شخړی وې.

۲. کمیډی:-
کمیډی په اصل کی یونانی کلمه او معنا ئی «کلی او زه آواز وایم دی» ده.

د دغه ډول نمایشونو د رواج په سر کی به شاعران له دې کلی څخه و هغه کلی ته تلل، پر کټونو باندی به د پېدل او خپلی نمایش نامی به ئی لوستلی.

یونانیانو لومړی سر په کمیډی کی عالی هدف درلودی او مقصد ئی یوازی تفریح او خندا نه وه بلکی د ډرام لیکونکی مقصد به په ټولنه کی د کمیډی او انتقادی حملو کول ؤ.

په کمیډی کی خندا یوه داسی حربه ده چی د هغه په وسیله د انتقاد عمل سرته رسیږی.

د کمیډی ارزش هم د هغه پر د مخنیو محتویاتو باندی بنادی چی هغه «داخلی جګړه او کشمکش دی».

نو ځکه کمیډی د خپل اصلی جوهر له مخی لکه تراژیدی پر مبارزه او کشمکش باندی ولاړه ده خو اصلا" په وسیله او هدف کی کلی توپیر لری.

په کمیډی آثارو کی جګړه او کشمکش په بېلو بېلو طریقو سره څرګندیږی

الف. د فرد او ټولنی د قوانینو ترمنځ شخړه چی که فرد د ټولنی د کلی او عمومی قوانینو پر ضد عمل کوی، د کمیډی [به ۱۲ مخکی]

د رشید [آرین] ژباړه

«۲»

ملت

ممکنه ده داسی افراد وښودل شی چی مشترک مځکه او مشترک اقتصادی ژوند لری خوسره ددې ژبی او

ملی اخلاقو بېله اشتراکه یو ملت نه تشکیلوی، لکه المانیان اود بالتیک دغاړی لاتویان. بالاخره نارویان

او ډنمارکیان په یوه ژبه خبری کوی خود نورو نښو دنه لرلو له کبله دوی یو ملت ندی یوازی ددې ټولو نښو

یوځای وجود ملت تشکیلوی کېدای سی داسی تصور وسی چی «ملی اخلاق» یوازی یوه نښه نده بلکی د ملت

یوازنی اصلی علامه ده او نوری نښی په حقیقت کی د

ملت د تکامل شرایط دی نه مشخصه علامی، مثلا اسپرینګر

او مخصوصا اپوثر چه په ملی مسئله کی د اتریش د سوسیال دیموکراتانو مشهور تیوریستان دی دغه راز فکر لری.

اوس به د ملت په باره کی ددوی تیوری وڅېړو:

د اسپرینګر د نظریی له مخی ملت د همکارو او مشترک ژبو خلګو له اتحاد څخه عبارت دی، ملت دیوې ډلی هم عصرو وګړو فرهنګی

او مدنی اشتراک دی چی په مځکه پوری اړه نلری (پر کلماتو موږ تکیه کړېده) نو ملت د همفکرو او مشترک ژبو

وګړو (اتحاد) دی چی که څه هم په هر ډول یو له بل څخه بېل او هر ځای چی سکونت ولری بوئر تر دې هم ورتېرېږی.

دی پوښتنه کوی: چی ملت څه شی دی؟ آیا د ژبی اشتراک خلګ دیوه ملت په شکل سره پیوندوی؟ خو

انګرېزیان او ایرلینډیان چی په یوه ژبه خبری کوی یو ملت ندی، یهودیان ګرسره مشترکه ژبه نلری خو بیا هم یو ملت دی.

نو ملت څه شی دی: «ملت د اخلاقو نسبی اشتراک دی» اوس به نو وګورو چی اخلاق او پدې مورد کی ملی اخلاق څه شی دی؟

ملی اخلاق «د هغو نښو مجموعه ده چی د یو ملت خلګ له بل ملت څخه بېلوی، د روحی او جسمی صفاتو مجموعه ده چی یو ملت له بل ملت څخه متمایز کوی.

البته «بوئر» پوهیږی چی طبیعی اخلاق له آسمان څخه نه دی نازل سوی، نو ځکه اضافه کوی: بېله د اشخاصو له سرنوشته

بل شی د هغو اخلاق نه مشخصوی چی نو.. ملت د سرنوشت بېله اشتراک څخه بل شی ندی چی په خپل روڼ تر هغو شرایطو لاندی

تعینیږی چی اشخاص په هغو شرایطو کی د خپل ژوند وسایل تولیدوی او د خپل کار محصولات سره ویشی.

پدې ډول موږ د «بوئر» په قول د ملت و بیخی بشپړ تعریف ته ورسېدلو.

ملت له هغو ټولو افرادو څخه عبارت دی چی د سرنوشت د اشتراک پر زمینه باندی د اخلاقو اشتراک یو د بل سره تړلی دی.

په بله ژبه سره ملت د سرنوشت د اشتراک په زمینه باندی د ملی

اخلاق له اشتراك څخه عبارت دی بېله دې چې د مځکې ژبې او د اقتصادي ژوند د اشتراك سره دی حتمي ارتباط ولري.

نو پدې صورت کې له ملت څخه څه پاتیږي؟ د هغو افرادو په باره کې چې د اقتصادي نظره یو له بل څخه بېل وي په جلاجلا هیوادو کې ئې ژوند کړي او پښت پر پښت دي په مختلفو ژبو خبري کړي وي له کوم ملي اشتراك څخه خبري کولای سو؟

بوئر د یهودیانو په باره کې د یوه ملت په عنوان ږغیږي پداسې حال کې چې دوی ګر سره مشترکه ژبه نه لري، خو مثلا: د ګرجستان داغستان، روسیې او امریکا د یهودیانو په منځ کې چې یو له بل څخه کاملا بېل دي په مختلفو ژبو خبري کوي او په بېلو، بېلو هیوادو کې ژوند کوي له کوم ملي ارتباط او د سرنوشت له اشتراك څخه ږغېدلای سو؟

نو موږ یهودیان بېله شکه د ګرجستیانو، داغستانیانو، روسانو او امریکائیانو سره ګډ اقتصادي او سیاسي ژوند لري او په ګډ فرهنګي محیط کې سره اوسېږي پر ملي اخلاقو باندې ی اغیزې نسي پاتېدلای، که د دوی تر منځ یو مشترکه وجه هم پاته وي هغه به مذهب او نسب او د دوی د ملي اخلاقو ځینې نښې وي دا ټوله منلی ده خو د دې سره دا څرنګه جدي ویلای سو چې د دې یهودیانو په «سرنوشت» کې دی مذهبي جامد دودونه او پسکولوژیك آثار چې د برباد یدو په حال کې دی تر ژوندي اجتماعي اقتصادي او فرهنګي محیط چې دوی احاطه کوي شدیده اغیزه ولري حال دا چې یوازې پداسې فرضیه سره په کلي ډول یهودیان واحد ملت بلل کېدلای سي.

پدې صورت کې نو د روح-پرستانو (سپریچولستان) د صوفیانه او «فائم بالذات» (ملي روح) سره د بوئر د ملت فرق څه دی؟

بوئر د ملت د ممیزه نښې (ملي اخلاق) او د هغه د ژوند د شرایطو تر منځ غیر قابل عبور فاصل خط رسم کړي او هغه یو له بل څخه جلا کوي نو ملي اخلاق څه شي دی؟ آیا د ژوند د شرایطو انعکاس او د هغو تاثیراتو تراکم نه دی چې د احاطه کوونکي محیط څخه منځ ته راغلي دی؟ دا څرنګه ممکنه ده چې یوازې دی په ملي اخلاقو پوري محدود سو او له هغې زمینې څخه دی بېل او متمایز کړو چې دا مختصات ئې مولود دی.

بالاخره د ۱۸ پېړۍ په پای کې او د ۱۹ پېړۍ په سر کې کله چې شمالي امریکا لانو انګلستان بلل کېدۍ د انګلستان د ملت او د شمالي امریکا د ملت تر منځ اصولا څه فرق موجود ؤ؟ څرګنده ده چې دا فرق ملي اخلاق نه وه ځکه چې د شمالي امریکا وګړي له انګلستان څخه تللي وه او تر انګریزي ژبې علاوه ئې ملي انګلیسي اخلاق هم د ځان سره وړي وه او دا هم منلی ده چې داسې ژر ئې د لاسه نسوای ورکولای خو ویلای شو چې د نوو شرایطو تر اغیزې لاندې د دوی تر منځ مخصوص اخلاق منځ ته راتلل سره د دې د لږو ډېر مشترکو اخلاقو د وجود سره له مبالغه وخت څخه دوی نسبت و انګلستان ته خاص ملت تشکیلاوه.

دا څرګنده ده چې پدې وخت کې د انګلستان سره د یو ملت په حیث د «نوی انګلستان» فرق د خاصو

ملی اخلاقو په لحاظ نه ؤ. یا چی ووایو فرق ئې د انګلستان سره تر ملی اخلاقو ډېر د مخصوص محیط اود ژوند د شرایطو په لحاظ دی.

پدې ډول نو واضحه ده چی په حقیقت کی د ملت د پاره یو ازی یوه، هیڅ مشخصه نښه نسته، یوازی د علامو یوه

مجموعه سته چی له هغو څخه د مقایسی په وخت کی کله یو (ملی اخلاق)، کله بله (ژبه) او کله بیا دریمه

علامه (مځکه، اقتصادی-شرایط) تر نورو برجسته ښکاره کیږی. ملت د ټولو نښو یو ځائی راغونډېدل دی.

د بوئر نظریه چی ملت اخلاق بولی، ملت له مځکی څخه بېلوی او په یوه غیر مرئی او قائم بالذات شی

سره ئې تبدیلوی چی په نتیجه کی یو عرفانی غیر قابل درك او تر دنیا په هاخواشی په لاس راځی

نه یوژوندی او عمل ته وارد ملت. ځکه بیا تکراروو چی مثلا د اخرنګه یهودی ملت دی چی د ګرجستان، داغستان

روسیی، امریکا او نورو هغو یهودو څخه عبارت دی

چی غیری ئې یو دبل په خبره نه پوهېږی (په بېلو، بېلو ژبو بغیری)، د مځکی د کرې په مختلفو سیمو کی اوسیږی، هیڅ وخت به یو

او بل نه سره ووینی او ګرسره به نه د سولی په وخت کی نه د جنګ په وخت کی په ګډه په یوه کار لاس پوری کړی!

سوسیال دیموکراسی خپله ملی کړنلار داسی د کاغذه پر مخ «ملتو» د پاره نه تنظیموی او یوازی هغه ملتونه په حساب کی را-

وړلای سی چی واقعیت ولری، په عمل کی داخل وی، په حرکت کی وی او نوځکه نور مجبور کړی چی دوی په حساب کی راوړی.

دا ښکاره ده چی بوئر ملت، چی یوه تاریخی کټګوری ده د عشیری سره ګډوی چی د طایفه-شناسی (انتوګرافیك) کټه ګوری ده.

په ضمن کی خپله بوئر هم د خپلی نظریی ضعف ظاهرا احساسوی پداسی حال کی چی د خپل کتاب په سرکی په قطعی ډول

ښکاره کوی چی یهودیان واحد ملت دی. د کتاب په پای کی خپله

اشتباه سموی او ټینګار کوی چی په کلی ډول سرمایه داری جامعه

نه پرېږدی چی دوی «یهودیان» د یوه ملت په حیث پاته سی او دوی په نورو ملتو کی حلوی.

لکه څرنګه چی معلومه ده دلیل ئې هم دادی چی

«یهودیان د خپلی اوسیدنی او آبادولو د پاره تا کلی او

محدوده منطقه نه لری»

پداسی حال کی چی د چکانو

د پاره یو داسی منطقه سته چی د بوئر د نظریی سره سم باید د یوه ملت په حیث پاته سی، لنډه دا چی دلیل ئې د مځکی نشته والی دی.

بوئر پدې بحث کی دا ثابتول غوښتل چی یهودی

کارګر ملی خودمختاری نسی غوښتلای، خوده پدې

ډول غیر قصدی خپله تئوری ماته کړه چی د مځکی له اشتراك څخه ئې د ملت د علائمو د یوې علامی په حیث انکار کاوه.

بوئر تر دې هم پسی ور تېریږی. دی د خپل کتاب په سرکی په قطعی ډول ښکاره کوی چی «یهودیان

ګرسره مشترکه ژبه نه لری خو بیا هم ملت تشکیلوی».

خو و ۱۳ مخ ته نا رسیدلی بیا خپلی جبهی ته تغیر ورکوی او په هماغه ټینګار سره وایی:

۱۲ مخ دی و کتل شی

ډراماټیک ادبیات او ....

د ۸ مخ پاته

شاعر او مؤلف تر انتقاد لاندی نیول کیږی او یو په بل پسی ئې دمخه څخه پرده ایسته کوی لکه قارنوفیان او ولینیان دغه ډول افراد او په نتیجه کی دغه ډول کمیډی ته د «کاراکټر» کمیډی وایی چی جهانی جنبه لری او ددې

آثارو دبری دلیل دادی تر څو چی خرافات موجود وی «تارتوف» هم لیدل کیږی .

نجبا او اعیان زاده عناصر د ځینو خلکو په کار پوری خاندی او په همدې ترتیب ... دټولنی دطبقو څخه یوه طبقه ځان ښه بولی او پر بله طبقه باندی انتقاد کوی «بورژوژانتی» او «فیګارو» له دغه ډوله څخه دی .

ملو ډرام :-

په ۱۹ پېړۍ کی د شکسپیر منو کلاسیسیم په ملو ډرام باندی تبدیل شو .

ددې سبك د پیدایښت تاریخچه له هغه ځایه څخه ده چی د اجتماعی تحولاتو په اثر په تاترکی لومړنی او دوهمه ډله د نجباؤ جانشین سوله او د تأتر ژبه له شعر څخه په عادی نثر واوښتله ، کله چی د یوې تراژیدی

د نننی مبارزه په وحشت انګیزو آثارو سره ښکاره شی ملو ډرام بلل کیږی . [پای]

د ۱۱ مخ پاته برخه

بېله شکه څخه دهیڅ ملت وجود بېله مشترکی ژبی څخه امکان نه لری (پر کلماتو ماتکیه کړی ده) .

بوئر دلته دا ثابتول غوښتل چی « ژبه دبشری معاشرت مهم ابزار دی» خوده په عین حال کی غیر قصدی هغه څه هم ثابت کړل چی د ثابتولو په فکر کی ئې نه ؤ

یعنی د ملت په باره کی ئې د خپلی شخصی تیوری چټی-والی ثابت کړ چی د ژبی له اهمیت څخه ئې انکار کاوه .

«له هری خوا»

ترټولو لویه بېړۍ

پدې وختو کی د المان نډرالی حکومت یوه داسی بری بېړۍ په کار اچولی ده چی ۹۱۰۰۰ ټنه تجارتی مالونه وړلای شی :

نوموړی بېړۍ چی د «ایسو-دیویچ لینډ» نومیږی څه مده دمخه دهامبورګ دښار په یوه ساحل کی په کار واچوله سوه . دا بېړۍ دمنو ۱۳ بېړیو له جملی څخه ده چی په څو تېرو کلو کی د «ایسو» د کمپنی له خوا تر جوړېدلو لاندی وه ددغی بېړۍ دجوړولو کار د ۱۹۶۲ کال دفیروری په میاشت کی شروع او د روان کال دمی په میاشت کی پای ته ورسېده او په مخصوصو تشریفاتو دفډرالی المان جمهور رئیس دښځی «فراولو بکی» په واسطه پرانیستله سوه . دغه بېړۍ د کارابین او نورو بحیرو په اوبو کی تګ اوراتګ کوی او تر اوسه پوری ئې د نړۍ د ډېرو بحری دمرکزونو سره ارتباط ټینګ کړیدی .

ایسو دیویچ لینډ ۸۵۰ فټه اوږد-والی او دانجنونو قوه ئې ۲۸۰۰۰ هارس پاور وته رسېږی د تګ لوړ . اندازه ئې ۱۷ ، اعشاریه ۵ ناتیکل میله ده .

نو هغه تیوری چی له ایډیا-لسټی او مړو تارو څخه او دل سوی وی پخپله خپل ځان تکذیبوی .

د شاګلی [وږمی] ژباړه

برنارد شاو

هغه سترلیکوال او فیلسوف چی عقیده ئې درلودل: « څوك چی هیڅکله امیدوار نه وی هیڅکله مأیوسیږی هم نه . »

✡✡✡

برنارد شاو په ۱۹۵٦ کال کی په دابلین کی وړی ته راغلی دی.

شاو د مدرسی سره چندانی علاقه نه درلوده . د ښوونکی او درس څخه دلسرده سوی وو.

دی خوشاله ؤ چی یوازی ئې ۵۰ کاله درس ویلی دی.

کله چی ځینی وغوښتل سول چی ده د «سنت جون» د نمایشنامی یوه صحنه په درسی کتابو کی ځای کړی جداً ئې مخالفت وکړ اووې ویل:-

«یا زه هیڅکله وچاته اجازه نه ورکوم ابدی لعنت دی وی پر هغه چا چه وغواړی زما آثار څه اوس او څه په آینده کی په درسی کتابو کی راوړی او ئکه شکسپیر منفور کړی، زما نمایشنامی ددې دپاره نه دی لیکل سوی چی د زجر اوشکنجی وسیله دی سی... سره ددې چی په ښوونځی کی ئې حساب ضعیف ؤ خو پر ۱٦ کالو باندی دغلو په یوه مدرسه کی د تحویلدار په حیث مقرر سو. ده له دې مؤسسی څخه ۴۸ لیرې حق اخیستی او د کار د پرېښولو نیت ئې هم نه درلودی.

خو یوه ورځ یوه واقعه پېښه سول چی د ژوند د تحول نقطه ئې شمېرل کیږی او هغه داوه چی یوه ملګری ئې دغه لوی راز فاش کړ چی ټوله زامن غواړی یوه ورځ دی دسترو خلکو په ټل کی راسی.

شاو تر هغی ورځی پوری هیڅ داسی فکر نه کاوه

✡✡✡

خو نا بېره ئې له کاره څخه استعفا وکړله بستره ئې وتړل او د لندن وخواته رهی شو.

خو متأسفانه په لندن کی چی هر څه په کار پسی وګرزېدی پیدا ئې نه کړ خو په هغه ځای کی دده خبره څوك چی هیڅکله امیدوار نه وی هیڅکله ناامیده کیږی هم نه، له دې بد چانسی څخه ئې په زړه کی هیڅ مایوسی پیدا نه شوه.

شاو ۹ کاله بیکاره ؤ او خپل وخت ئې د متفرقو کتابو په مطالعه او کله، کله په ناول لیکنه باندی تېراوه.

سره ددې چی پدې موده کی ئې پنځه ناوله لیکلی وه خو هیڅوك حاضر نشو چی دده کتابونه دی چاپ کړی . پدې وخت کی دده ډرامه یوازی و پنځو لیروته رسېده چی هغه هم د خو انتقادی مقالو د لیکلو له درکه ؤ چی د برنارد شاو نوم لږ مشهور اود خلکو په خولو کی



بناغلی [الفت]

د سولی نړی

هغه ورځ به بختوره وی هر ګوره
چی د سپینو زړونه تور نه وی له توره
کرکه نه وی یو له بله محبت وی
ورورولی سوله صفا وی او بنه نیت وی
مرور خلک یو بل سره پخلا شی
نه چی غوښه او چاړه هغه او دا شی

بشری دوستی قائمه په جهان وی
خوښ په سوله هم کافر هم مسلمان وی
نژادی تو پیر هیڅ نه وی په دنیا کښی
نه په شرق او نه په غرب نه امریکا کښی
استقلال منلی حق د هر ملت دی
خو قایم په ملتو کښی اخوت دی

دا څو رنګه ساز آواز د هیوادونو
شی یوه آرکستر ا د ولسونو
د ګډ ژوند اصل او اساس اصلی منظور وی
جهانی عدل او انصاف صحیح دستور وی

هر ملت په هر نظر کښې وی ښاغلی
که په هر رنګ او آئین کښې وی راغلی
سړیتوب دی محترم په هر لباس کښې
په زړو جامو کښې وی که په کرباس کښې
داسی وساتی هر څوك خپل مسلکونه
چې ونه کړی یو له بل سره جنګونه

ټول جهان د دوستۍ کور وی سر تر سره
د جنګ وېره شی له زړونو نه بهره
زور تړلی وی د سولی په قانون
مهار شوی مست اوښان وی د جنون

تو یول د وینې شرم او پېغور وی
شرمنده، ذلیل، سرټیټی ظلم او زور وی
جګ شی هر چیرته د سولی بیرغونه
شی پـه سمه لار روان سیاستونـه
دانسان زړګی له جنګ او جګړې تورشی
توره ماته شی او جوړ ورنه څه نورشی

خو له نـه وی عـلامه د خجالت
په خدمت خولی کېدل وی شرافت
یـو لـه بله محبت مهربـانی وی
د «الفت» هیڅه او فکر جهانی وی

زه له تا ځنی جارېږم ته له ما نه
که جدا هم وی زما آئین له تا نه

زما وجود

ما د ملاقات د ټاکلی ځای، د تلو د پاره ټوله لار یوازی ووهله ؛ خو دا څوك دی چې پدې توره تیاره کی زما سره په پټه خوله روان دی.

زه زیار باسم چې له ده څخه جلا شم مګر دی نه جلا کیږی .

له ډېره خیاله د ګوتو په سرو ځی خپل لوړ بڼ زما له هره لفظه سره یو ځای کوی .

ای باداره! پخپله زما کوچنوتی وجود دی، دی خو نه شرمیږی خو زه چې دده سره ستا دروازې ته درځم شرمیږم .

ښاغلی [لایق]

زهد شکن ښایست

ستا د حسن په سپېدو کښې، خوځېدلی زلزلی دی
د آسمان له سخته زړه نه پورته سوی ترانی دی

نه پوهېږم څه محشر دی ستا سترګو په ګردش کښې؟
چې یاران ئې نشه کړی بی د میو له پیالی دی
ستا د سرو شونډو له تاوه کباب سوی لړمونونه
دا لاله دی که یاقوت دی؟ که سکروټی که لمبی دی؟
هر ښایست چې تجلی کړی زما په شعر او آند ېښنو کی
ستا د تیو یا د زلفو یا د سترګو کرشمی دی

ستا له هسې جلوې جارشم چې زاهد ئې په ملامات که
کړنګولی ئې جامونه ننګولی میخانی دی
څه به هڅه د طاعت کړم څه به هیله د جنت کړم
ښه پوهېږم ستا په عشق کی توری سوی خاتمی دی
«لایق» دومره ساده نه دی چې د وصل تمه دار شی
ستا د غیږی په ارمان کښې ډکی سوی هدیرې دی

ښاغلی [مسکین یار]

رشوت خوره

په رشوت چې دی ګټلی سپینی سرې دی
وسایل د نفاق غونډ دی په رشوت کی
د رشوت په تاثر نن په هیواد کی
قانونی حقوق ئې غصب په رشوت سی
چې مامور په مراعت دور ورګلوی سوی
ستا په خیال چې نه به عزل نه به مرګ وی
ولی ډېر دی مالیدلی ستا په شان نور
په خپل غوږ د بل د مرګ افسانی اوری
اقتدار دی سعادت ګڼه حق بین سه
خیانت د جامعی سره رشوت دی

له دې ګټی نه معلومی خسارې دی
ښکاره سوی د رشوت لوئی نخرې دی
په ژړا د مظلومانو سترګی سرې دی
د بدره ګدائی که ګذارې دی
فلسفه ده د اسلام نه مسخرې دی
په نصیب می ابدی دا ښی دورې دی
چې ناکام تللی په ډکی هدیرې دی
په بل غوږ کی صبا ستا د مرګ نارې دی
د عقبی چاری دلی کله دورې دی
[مسکینیاره] د رشوت درنی خطرې دی

مرحوم [خوشحال]

پښېمانه عاشق

توره چې تېرېږي خو ګذار لره کنه؟
زلفي چې ول ول شي خو خپل يار لره کنه

ولي راته وايي چې په ښکلو نظر مه کړه
سترګي چې پيدا دي خو ديدار لره کنه

شيخ دي لمونځ روژه کا زه به ډکې بيالي اخلم
هر سړي پيدا دي خپل خپل کار لره کنه

تا ويل ځما د خولي بوسه لکه دارو ده
غواړم دا دارو د زړه پرهار لره کنه

وينې مې د زړه خورې مګر نور څه لره نه دي
زړه ځما پيدا دي تا خونخوار لره کنه

څه ژړا فرياد کړي د شپې له تورو زلفو
ته ورتلي پخپله دي تور مار لره کنه

خود به ستا ترمخه د ګبا غوند څرګندشي
ګله دلاله راوړه خپل رخسار لره کنه

مې شته چنګ و نې شته د خپل يار سره خوشحاله
خپل بياض په لاس کښې څه ګلزار لره کنه

ملي اشعار

زړه مې هلك سو راته ژاړي
نو پردې پټې بيابان غواړي ديدارونه
د ګورستانه مې ګيله شي
ځوانان خوندي کې راستوي تش پلنګونه

✡●✡

طوطي به خداي په ګلو موړ کې
باغوانه ستا نيمګړي نيت مې ژړوينه
مرګيه! لږ تامل وکه
يو مې ځواني ده بل مې ډېر دي ارمانونه

د بېلتانه په تاريکو کې
د توکل څراغ په لاس در پسې ځمه

✡●✡

که لويي غواړې ځان کم ګڼه تر بله
بل تر دا د پاسه نشته نصيحت
نورانی کا هغه ځای چې سره کښيني
ديرينه څلور هوښيار په مشورت
بې جرګې نه به هيڅ کار په لاس وانخلي
چې خبر دي د جرګې په برکت

ښاغلی [رشاد]

قسم

په سوو کرېږو د فقیرانو
په تورو تپو د مسکینانو

په پټو لوږو د کونډو رنډو
په مړامو او ښکو د یتیمانو
په سړو آهو د اسکېرلیو
په څیرو ګرالبو د سیمو ګامو
په لڅو خېټو د پر کټیو
په یپلو پونډو د بېکسانو
په بدوو رڅو د افتاده وو
په تشو لاسو د ناتوانانو
په سختو زمو د بی توښه وو
په وږو ګېډو د بېوزلانو

په وچو شونډو د پور وړو
په کږو غاړو د محتاجانو
په کښتو ستر ګو د درد مندانو
په ماتو زامو د عاجزانو
په سړو ساؤ د کاریګرو
په ستړو تلو د مزدورانو
په ډکو زړونو د ارمانجنو
په ماتو خواؤ د محرومانو
ستاسو قسم وه په دولت مستو
لږ رحم وکړی په غریبانو

ښاغلی خیال الدین [سنګر]

خوښ یمه

زه لکه مجنون په صحرا خوښ یمه
نه یمه غنی نه سیم او زر غواړم
زه خو نرګس نه یم مالیار څه په کار
راز د یارانی خو پټوی نشم

کاشکی رېز مرېز له وینو ډک شمه
ما د خپل ځان واک ورته سپارلی دی
څه به وی وفا د خار او ګل سره
دود که سپیلنی شم دا می فخر دی
نه غواړم امان چی ورنه خلاص شمه

څیری ګرېوان تل په ژړا خوښ یمه
زه دیار په عشق کښی ګدا خوښ یمه
تل لکه غاټول په صحرا خوښ یمه
سر په دار منصور نه رسوا خوښ یمه

لاس وپښو د یار ته حنا خوښ یمه
زه د خپل آشنا په سلا خوښ یمه
دی وفا نه زه په جفا خوښ یمه
سل وار له محبوبی فدا خوښ یمه
تل د یار په غم مبتلاء خوښ یمه

زه «سنګر» پتنګ مین په شمع یمه
سوی سوخته عشق کښی جلیا خوښ یمه

برنارد شاو

د ۱۳ مخ پاته

ولوېدی او څرنګه چی پدغو ورځو کی ئې دغوښو خورك پرې-ایښی او د سبزیجاتو په خوړلو ئې پیل کړی ؤ .

نو ځینو کوتاه فکرو کسانو دده بری د وښو له خوړلو څخه اټکلاوه .

شاو کوښښ کاوه ثابته کړی چی دوی اشتباه کوی خو دده ددې حقیقت د ثبوت دپاره ئې کوم فرصت نسوای پیدا کولای

تر څو په لومړی بین المللی جنګ کی د انګلستان خلګ مجبور شول چی وابنه وخوری پدې وخت کی شاو فرصت غنیمت وبلی او داسی ئې ولیکل :-

«په نړۍ کی په ملیونو افراد سته چی وابنه خوری خو برنارد-شاو یوسړی دی » زما په وښو کی یوه عجیبه نښه سته او هغه

داچی حوادث وماته په یوه بل ډول ښکاریږی یا په بل عبارت زما درد، خوښی ، تبه، یخ او حتی عشق له نورو سره تو پیر لری .

واقعاً همداسی وه ځکه برنارد شاو په خپلو روښانه سترګو لوړ او پراخ تندی او ګڼه ږیره سره و نجونو ته مخصوصه جاذبه درلوده، خوده هیڅ پروا نه په کول .

وروسته شاو په ایوت سن-لورانس کی ژوند کاوه د بېلو بېلو خلګو سره لږ په تماس کی کېدی او مسافرت ئې هم لږ کاوه

خو سره د هغه ئې هم مصر او امریکا ته مسافرت وکړ .

کله چی وامریکا ته ورسېدی د ورسېدلو سره سم ئې دامریکا په ریشخند باندی شروع وکړه او وې ویل :-

« زه نه پوهېږم چی په انګلستان کی ولی خلګ دامریکا دلیدلو هوس کوی زه په هغو مسخرو کی چی کو میك جنبه

ولری استاد یم خو اشتهار می دومری زیات نه دی چی ولاړ سم او د آزادۍ مجسمه وګورم» .

شاو عادت درلود چی و خپلی هری نمایشنامی ته یوه مقدمه ولیکی او دغه مقدمه دده دافکارو روحی او فلسفی نښانی وه .

دده نمایشنامی په لاندی ډول دی :

« سړی او برتر، کاندیدا، د سرنوشت سړی، د مېرمن وارن کسب، .. د شیطان شاګرد ، سزار او کلئو پاترا، فاژور، بار-بارا او د لوی کاترین واده کول .

شاو دخپل ژوند فلسفه دسړی او برتر په نمایشنامه کی ښکاره کړیدی .

جرج برنارد شاو لوړ ایرلنډی لیکوال دی چی په انګلیسی ادبیاتو کی ئې لوړ مقام درلود .

ده تر ۹۴ کاله ژوند وروسته په ۱۹۵۰ کال کی له دې نړۍ څخه سترګی پټی کړې .

کار

په دنیا کی تردې بل بد شی نشته چی انسان خپل وخت چټی تېر کړی ځکه په بیکاری سره دانسان مغز خپل ځان خوری، پدې سبب پوهان دا ناروغی د انسان له بدو آفتو څخه بولی .

✡✡

رښتینتوب

رښتین توب د بشر د ښو اخلاقو چینه ده ځکه دراستی سره ښه کارونه او لوړی طبعی ملګری دی له دې سببه ئې ویلی دی: « و زوی ته دی راستی ورزده کړه چی دی ټوله فضایل زده کړی» .

د [مترلنګ] له افکارو څخه

ژباړونکی [غرزی]

زموږ کارونه

آیا لیدلی یا اورېدلی به مو وی چې ډېر خلک دخوب په وخت کی له ځای څخه ولاړېږی اودخوب په حال کی ډېر کارونه کوی چې د ویښتیا په وخت کی ئې هیڅ نه وی په یاد اونه پوهیږی چې څه کارونه ئې کړیدی .

موږ هم په ژوند کی ددغسی خلکو په ډول یو او ټول کارونه چې کوو کور-کورانه، سطحی اود خوب له حاله دی.

زموږ کارونه که لاسی وی او بېله فکر څخه ئې په عادتی ډول په لاس اجرا کړو یا فکری او ریاضی کارونه وی چې د پای ته رسولو دپاره ئې دمغز ټول قوت په کار واچوو، بیاهم سطحی اود خوب د حال په ډول دی.

پدې وخت کی چې تاسی دا کرښی لولی، که څه هم ستاسی ټوله توجه دې تورو اوکرښو ته وی، خو بیاهم په یومبهم ډول احساسوی چې ستاسی فکر بل ځای او بل شی ته متوجه دی چې نه پوهیږی څه شی دی اوددې سره هغه شی تاسی ته تردې کرښو ډېر مهم ایسی.

✡✡✡

نن او پرون

زه ګرسره دخپل عمر د تېروسوو ورځو څخه متأسف نه یم ځکه پوهیږم هره ورځ چې له لاسه وځی برعکس ددې چې په ظاهره ښکاره کیږی، ما هغه ورځ ضبط او تملك کړېده.

که زما د راتلونکو ورځو شمېر کرار، کرارلږیږی په عوض کی می د تېرو ورځو شمېر ډېریږی .

دا باید هېره نه کړو چې تېری سوی ورځی تر راتلونکو ورځو ډېر موږ ته ارزښت لری ځکه راتلونکی ورځی تراوسه زموږ په تصرف کی نه دی او په موږ اړه نلری، خو تیری سوی ورځی زموږ دی او په موږ اړه لری.

✡✡✡

الکتریسیته

دجسمو او مادی فکر ددوی الکتریسیته (برېښنا) ده لکه د انسان فکر چې هم د انسان الکتریسیته ده.

✡✡✡

د عمر لنډوالی

سره ددې چې زموږ د عمر دوره ډېره لنډه ده ددرو دوې برخی ئې پدې کی راځخه تیریږی چې د وخت له سست والی څخه ناخوښه یو چې وای ژر نه تیریږی.

شپه اوورځ موږ ته ډېره اوږده ایسی اوتل غواړو چې نن تېرسی او بیا راسی .

ته وا مرګ ته مو وعده ورکړېده چې تر وسه، وسه ئې ژر لیدلو ته ځان وررسوو.

راستی

له راستی څخه شجاعت وظیفه پېژندل، ټینګه والی په کار پیل کول، وفا، د خبری ښکاره کول، پر نفس باندی اعتماد کول، لوسینه، اغماض او پرګناه اقرار کول چې انسانی فضایل دی، پیدا کیږی.

د [یوسفی] ژباړه

په جراحی کی د بېهوښی د غازو ګټی

که څه هم د جراحی عملیات د ډېرو وختو راپدې خوا د مریضانو په مخکی استعمالېدل اما ویلای سو چی اکثره د دې عملیاتو څخه اطمینان بخشه نه وه او ډېر لږ ئې مثبتی نتیجی ورکولی.

۱۹ پېړۍ چی د هره پلوه د تجدد او رنسانس دوره شمېرل کیږی پدې برخه کی ئې هم لوی، لوی ګامونه واخیستل نوی آلی، سامانونه او پوه ډاکتران پیدا سول چی د دې ټولو علتو چاره ئې وکړه

باید متیقین اوسو چی هیڅ کار بېله ربړو او زحمت تېرېدلو خپل صحیح او اساسی شکل نه دی غوره

کړی مثلا څه وخت د مخه دا ډېر مشکل کار معلومېدی

چی عملیات دی تر څو محدودو دقیقو اضافه دوام وکی او

حتی اکثره ډاکتران به په خپلو اولینو آزموینو کی چی د دوی څخه به غوښتل

کېدل د منځه تلل او د ناکامیو سره به مخامخ سول.

د ۱۸۰۰ع کلو په حدودو کی ښاغلی همپری ډیوی د بی هوښی غاز کشف او منځ ته را وایست او په خوږه لهجه ئې اظهار وکړ.

چی دا غاز او ماده به د ډېرو خلګو او مریضانو پر زخمونو باندی مرهمونه کښېږدی.

پسله ۴۰ کالو تېرېدلو څخه نور ګټور غازونه لکه چی یو له هغو څخه د خوښی او خندا غاز وو په لاس راوړ.

په ۱۸۴۲ کال کی امریکائی ډاکتر «لانګ» دا غاز پر یوه مریض باندی چی په یوه غمجنه ناجوړی مبتلا ؤ او پر یوه بل مریض چی د پښو ناخوښی ئې لرله عملی کړ، او مثبته نتیجه ئې

ځینی واخیستل. یو کال وروسته ښاغلی جین [سیمین] د کلورفورم د بېهوښی د مرکباتو سره مخامخ سو، او دا غازات ئې دیوې ډېری

سختی مریضی په اصلاح کی چی هغه د زېږېدنی مرحلی وی په کار واچاوه. څه وخت د مخه کوم شی چی د جراحی عملیاتو

په مقابل کی په کلکه مجادله کول هغه د زخمو وروستوالی او خرابی وه چی دا مضر مکروبونه د زخم له لاری داخلېدل او پسله لږ وخت به علاوه تر هغی ناروغی ناجوړو نوری مریضی هم پیدا

کولی او د لومړی ځل د پاره د ناپولیون جراح د جنګ په میدان کی د څه نوو موادو په کومک عملیات وکړه او نتیجه ئې منفی راووتل ځکه چی ۱۰۰۰ مریضان

مړه او یو ډېر لږ خلګو صحت وموند پدغه وخت کی علاوه پر دغه د خلګو او پوهانو نظریات د مکروبو و لورته

نه وه جلب سوی، خیرن کالی او آلات به ئې استعمالول حتی دیوې جوړې کالی په اغوستلو به ئې د ډېرو مریضانو

عملیات اجرا کول کومی محدودی آلی چی به موجودی وی هغه په هغه چټلو ډولونو استعمالولی

د حفظ الصحی او تندرستی مراعات ئې نه درلود اما اوسنی ساینس وموږ ته دا تلقین وکړ چی د مخه د ناجوړیو تر پېښېدلو باید د خپلی تندرستی مراعات

وکړو څه وخت وروسته محدود خلګ د دغو حقایقو سره آشنا شول مګر بیا هم دوی تر ترټنی لاندی ؤ او

دعوامو له لوری به تل دوی ته بد ویل کېده چی حتی اوس هم خلګ د حفظ الصحو مراعاتو ته پام لرنی نلری

مګر باید د زخم د پیدا کېدو په وخت کی د ډېر احتیاط څخه کار واخیست سی څو مکروبونه داخل نسی

همدا ډول کومی برخی چی ماتی سی باید په ټینګ ډول سره وساتل سی او د هوا ورننولو سره مجادله

وسی او موږ کولای سو چی په آسانی سره مات بندونه د «کاربالیك» په ذریعه پیوند کړو د مکروبو او

بکټریا بریالی موادو د مجادلی په لړ کی د ښاغلی «پاستر-کا، چه اولسټر» کوښښونه د یادولو وړ دی

او نوع بشر باید همېشه ورته د قدر په سترګه وګوری انسانانو ته ور وښوول چی مکروبونه په مساعدو ځایو کی ژوند کوی.

که چیری پر دوی باندی د ژوند دائره تنګه کړی دوی و فرار ته مجبوره

د فدا محمد [خواری کښ] لیکنه

د نن ورځی فلسفی ته

یوه نوی کتنه

عوام وایی: فلسفه یو خیالی او یو ټوپیا ئی ټال دی چی فیلسوف د خپلو تصوراتو په زانګو کی زنګوی، اما برعکس فلسفه یوه ډېره لرغونی پوهه او د واقعیت پېژندنی یوه ډېره پخوانی وسیله ده.

که موږ خپل شاوخوا کائناتو ته لږ نو کی په غور وګورو ډېر عجیب ؤ غریب شیان وینو دا ټوله شیان چی موږ ئی را احاطه کړی

یو د بی نهایته کائناتو یوه برخه او د ناپایه جهان یو کنج دی، دا ټول شیان وچ او لانده، سپین او تور، پورته او کښته، نوی او زاړه ښایسته او بد شکله بېل شیان لیدلای شو، او علاوه پردې ژوندی او بی ژونده اجسام، روح لرونکی او بی روح جسمونه متفکری او غیر متفکر شیان پدیدې هم وینو.

دا ټوله شیان موږ په یوه کلی ډول پر دوو عمومی برخو ویشو:

۱. مادی شیان او پدیدې

مادی شیان موږ په ساده ډول داسی تعرفولای شو:-

«ټول هغه شیان او پدیدې چی په عین ډول موجودی وی او د خپل موجودیت د پاره د انسان ومغز او شعور ته اړتیا ونه لری مادی شیان او پدیدې بلل کیږی.

لکه بېل بېل مځکنی اجسام او سماوی اجرام چی موږ او تاسی ئی هر یو مختلف رقمونه پېژنو.

۲. معنوی شیان او پدیدې

د انسان په شعور کی موجود شیان چی پخپله د یوه انسان د روحی فعالیت برخه ده معنوی پدیدې بلل کیږی لکه فکر، شعور احساس او داسی نور.

دا پدیدې یوازی په ذهنی او معنوی جهان پوری اړه لری او کوم «او بجسکټیف» واقعیت کیږی، په همدې اساس د ایشیدلو په وسیله خوراکی مواد او او به تعقیم کېدای سی او ځینی نور پوډرونه

او مواد ئی منځ ته راوړل چی د دغو مضر و موجوداتو موجودیت د منځه وباسی چی نن ورځ ټول روغتونونه د ډاکترانو او مریضانو کالی په خلاصه هوا کی تر حرارت تېروی تر څو له مکروبو څخه خلاص شی.

نه لری.

د ټولی نړۍ د فلسفی تحقیق اساس هم د همدغه ځایه څخه راشروع کیږی.

د تاریخ په جریان کی هرو خاصو اجتماعی اقتصادی او محیطی شرایطو د ځانه سره نوی، نوی

فلسفی ساختمونه او سیستمونه راوړی دی خو نوموړی کرده فلسفی سیستمو ټوله پردې خبره باندی ولاړ دی چی د فلسفی و اساسی مسئلی ته څرنګه جواب ورکوی؟

د فلسفی اساسی مسئله هماغه دمادې دوجود سره د تفکر او روح رابط ده.

او ددې خبری سپینول دی چی آیا دغه ټوله انسانی تفکرات او تصورات دمادی

دنیا او عینی واقعیت محصول او انعکاس دی که بالعکس؟

بله خبره چی دفلسفی د اساسی مسئلی دوهمه برخه تشکیلوی داده چی آیا جهان د پیژندلو وړ دی او که نه؟ آیا

انسانی تفکر او تعقل د جهان او طبیعت له مخی پرده پورته کولای سی که یا؟ آیا موږ د طبیعت د تکامل د قوانینو، د کشف توان لرو که یه؟

د فلسفی تفکر تاریخ ددې خبری ښکاره شاهد دی چی د فلسفی د اساسی مسئلی د حل څخه یرته د نورو عمومی مسایلو لکه د کائناتو وحدت، د طبیعت او بشری ټولنو د تکامل د قوانینو

د عمومی او خصوصی خصلت او بالاخره د جهانی پدیدو د هیڅ ډول تشریح امکان نسته.

هغه فلاسفه چی مادی جهان او واقعیت د فکر و نو او تصوراتو سرچینه ګڼی د فلسفی و اساسی مسئلی ته مثبت جواب ورکوی. او

د علمی واقعیتونو په درک سره جهان یو دایمی او عینی واقعیت بولی.

د دوی په عقیده، شعور پخپله د عینی جهان د پرله پسی تکامل محصول او د یوه ډېر سره پرله پسې پیچلی مادی جسم خاصیت دی

لکه د انسان ماغزه. خو کوم فلاسفه چی فکر او شعور د عینی جهان بنسټ شمیری د ایډیالیسم ډله جوړوی او د دوی په عقیده

شعور ترجهان ترمخه موجود دو، د مادی جهان زیږونکی دی او یا په بل عبارت شعور د وجود سرچینه او اصلی بنسټ دی

واقعیت پال فیلسوفان وایی: د جهان د پیژندلو وړ، او انسان پخپله د طبیعت قوانین نه یوازی کشف بلکه په کار هم اچولای شی

« له هری خوا »

آیا پوهیږی؟

چی: پوهان د یو لړ علمی څېړنو په اثر دې نتیجی ته رسیدلی دی چی د شمالی قطب له لویدیځی

خواڅخه د الاسکا وخواته مخکښی ځی.

نوموړو پوهانو د اسی استنباط کړیدی چی دغه کار د مځکی د ګرزیدو د لړزیدا په اثر صورت مومی.

د دوی په عقیده عملی کار او په اجتماعی حرکت کی فعاله برخه اخیستل د ټولنی په پرمختګ او د یوه جریان

په منځ ته راتلو او بریالیتوب کی اساسی رول لری.

برعکس ایډیالستان عقیده لری چی جهان د پیژندلو وړ نه دی او انسان د اجتماعی تکامل د قوانینو د پوهیدلو توان نلری.

مشهوره مقوله د هیګل وایی: «د فلسفی تاریخ د ایډیالیزم او ماتریالیزم د متضادو سیستمونو د مبارزې تاریخ دی».

پاته لری

سردار شاه [خلیق]

رقابت ښه او خونه هم لری

رقابت یوه عربی کلمه ده چی په دری کی ډیره مستعمله او په پښتو کی هم ویل کیږی.

دلته درقابت د کلمی په شاوخوا کی زموږ بحث ځکه شروع کیږی چی ځینی خلک ورته په پښتو کی بیځایه او بی موره ده تعبیرونه اخلی او هغه د بدی او دښمنی په معنا را اړوی، حال دادی چی رقابت ښه او خونه هم لری لکه: تجارتی، سیاسی او نور رقابتونه.

مثلاً دیوې ټولنی په ژوندانه کی داسی وخت راځی چی د ټولس په حیاتی اړتیاؤ کی لږوالی محسوس شی بدغه وخت کی یوه ټولنکی محتکرین غواړی چی دقوم ددغسی ضرورت څه بده ګټه وکړی.

مګر یو بل وطن دوست سوداګر غواړی چی ددغه ناجایز عمل سره رقابت وکړی او د غلو د بازار مخه په محیط کی ونیسی، او په برابره بیه هماغه مواد عرضه کړی.

یا یو شاګرد غواړی چی د خپلو هم صنفو ملګرو سره په تعلیم کی رقابت وکړی او د کوښښ له لاری خپله تعلیمی سویه د یوه ټولنکی له نورو شاګردانو څخه لوړه کړی، یا یو غریب دوسته دنیادار سړی د نورو ظالمو شته منو په نسبت د جامعی و مظلومانو او خورانو ته د زیاتی خیررسانی مصدر شی.

دغریبانو، مظلومانو، بیوزلانو، او محتاجه خلکو سره وخت په وخت مرسته کوی، نه غواړی چی په کوڅو او یا په بازارونو کی خپل د سوال لاسونه وخپل او پردی ته اوږد کړی.

دا راز رقابتونه او سیالی جایزی او درستی دی او هر سړی یا مؤسسه او دولتونه مجاز دی چی د داسی رقابتونو احساس ولری بلکی رقابت دی چی د اجتماعی مؤسسو د لوړ تیا او د تعلیمی استعداد د نو (د ارتقا سبب سویدی) رقابت دی چی موږ یو له بل نه پخپلو وظایفو یا د مسالکو په مخ بیولو کی ښه او زیات موفق کیږو.

رقابت دی چی زموږ د مدنی تحولاتو عامل ګرزیدلی دی دا چی ځینی خلک پدې عقیده دی چی رقابت حسد او دښمنی ته وایی او یا ئې یوه بده سیالی ګڼلی ده.

دوی په مطلق ډول خطا سویدی، او دغه تعبیرهم د رقابت د کلمی د پاره سم نه دی، بلکی پخپله د کلمی د معنا او مفاهمو له کبله چی: دښمنی، کینه، حسد، او عناد ورته وایه شی له رقابت سره زیات توپیر لری، بلکی دا جملی ټولی بد و معناؤ ته شاملی او مطلق شر او ضرر ته راجع دی.

«الپین» د میلاد په دریم قرن کی رومی نامتو فاضل پخپلو نظریاتو کی پدې زور اچولی دی چی متقابل محبت د همنوع سره کومک د طبیعی حقوقو بنسټ او د اجتماع تاداب دی. او هر کله چی څوک ددې نه انحراف کوی هغه د طبیعت د قانون په نزد مسئول او د اجتماع د دښمن دی.

«الپین» رقابت پدې معنا چی افراد یو له بله زیات خپلی نوعی ته د عالی خدمت مصدر سی او د رقابت له لاری د ناوړه او بد وچارو او همسلکو سره مجادله وکړی

ښه بللی او رقابت ئې په اجتماعی امورو کی عموماً او په انفرادی چارو کی خصوصاً لازمی او د هرچا فطری غریزه بولی او بدبین او خاص خودپرست خلک چی حاسدین او کینه ګر دی د اجتماع دښمن او د متقابل محبت ته منجر او معرفی کوی. رقابت په عرف او مدنی حقوقو کی هغه سیالی ده چی د کار، فعالیت، ایثار او زحمت روح په اشخاصو کی قوی کوی، چی په نتیجه کی ورڅه څوك د سړیتوب او شرافت لوړی پوړې ته رسېدلی دی او څوك د سرمایی او پانګی د ډېروالی له کبله په نورو مالدارانو، مترقی سوی، یا د فضل او کمال له حیثه نابغه او نامتو سویدی. دا وړ رقابتونه جائز او د دنیا د فعالیتونو او پر مختګونو اساس هم پدې اساس روان دی.

نو باید چی د رقابت احساس ته بد ونه وایی، که رقابت ته بد ویلای شی یا دا کلمه مجرده وبولو او د عامه مصالحو د پاره ئې بده وګڼو نو د ټولو څخه اول باید موږ د دنیا د جامعو مختلفو سیاسی ډلو ته په ټولنو کی قایل نشو او د ډلو رقابتونه بد وګڼو، لکه د انګلستان په شاهی مشروطه رژیم کی «د کارګرو او محافظه کار د سیاسی ګوندونو رقابت» یا په امریکا کی د «ډیموکرات» او د «رادیکال» سیاسی ګوندونه چی یو د بل رقیبان دی د واړه ګوندونه د امریکا او انګلستان ملیونو د خپلو مصالحو د پاره د مدنی یا موضوعه حقوقو په ایجاب کی تشکیل کړیدی.

آیا موږ دلته د امریکا یا انګلستان د معتبرو سیاسی ګوندو ترمنځ په رقابت قایل یو او که نه؟

که قایل یو نو آیا رقابت بد دی؟ هغه هم پداسی حال کی چی دا ګوندونه خپل رقابت پداسی یو ترتیب سره مخکی بیایی چی تصادم ئې په منځ کی نه واقع کیږی او د خپلو حرکاتو عکس العملونه د ټولنی وقضاوت ته سپاری، او په پای کی چی د هری ډلی نظریه یا رایه غلبه ومومی هغه واك او اقتدار په لاس کی نیسی.

د اوو د رقابت اصلی ماهیت چی د حسد یا کینی او دښمنی سره په مقایسه وی صورت وڅېړل شو او معلومه شوه چی حسد، کینه او دښمنی د رقابت د مقالی تر عنوان لاندی بد او د بشری مصالحو مسافی دی.

او رقابت لازمی مفید او لابدی شی دی په هر څه کی چی وی. البته د اعتدال له اندازې نه که رقابت واوړی نو بیا د دښمنی او کینی، تباهی او بربادی په پوښ کی ننوزی چی نه یوازی د رقابت، رنګ او مینی تغیر کوی، بلکی هر څه او هر شی چی له اعتدال نه اوړی معنا او رنګ ئې تغیر مومی.

لنډه دا چی رقابت د بدی دښمنی، خصومت په معنا نه بلکی د فن مسلك، مال او شخصیت د لوړوالی د حصول غوره ذریعه او وسیله ده.

د غوښتنی منل

هر څه چی له نورو څخه غوښتنه لږ وی د سړی وقار ډېر یږی که اجباراً غوښتنه پېښه سوه باید د هغی په پوره کېدو کی اصرار ونه کړه سی ځکه د هغه چا په حال چی غوښتنه ځنی سوېده څوك نه دی خبر، ښائی چی یو عذر دی لری او ښکاره کولای دی نه شی، او که غوښتنه ومنل سوه دا مینه هیڅ وخت باید هېره نه کړه شی ځکه هیڅوك د بل چا د غوښتنی په منلو نه دی مجبور.

ددې کال په دوبی کی احمد خارج ته تللی ؤ، ده دخپل راتګ پـه وخت کی

په لس پونډه پـو ښکلی او ښایسته ساعت اخستی او له ځانه سره ئې راوړی ؤ.

کله چی د احمد ملګرو په دفتر کی دده ساعت ولید نو دهغه د اوصافو په بیانولو ئې شروع وکړه، او حقیقت

هم دادی چی د احمد ساعت ډېر ښکلی او مضبوط ؤ احمد هم له خپل ساعت سره ډېر خوشاله ؤ ځکه دده

ساعت برسېره پردې چی ډېر ښایسته ؤ یوه ثانیه هم وروسته یا وړاندی نه تی، نو کله چی

به ئې له نورو ساعتونو سره مقایسه کړ بی نظیر او بی مثال به ښکارېده.

د احمد له راتګ څخه تقریباً یوه میاشت ووته خو دده د ساعت په هکله د خلکو تبصرې ورځ په ورځ زیاتیږی

او حتی ځینی کسان پرته له دې څخه چی د احمد ساعت ئې لیدلی وی له ځانه ډېر اوصاف د هغه له اوصافو

سره ضمیمه کوی او که کوم څوک د کوم کار د اجرا لپاره

او یا د رخصتی په توګه په کوم سفر تللی وی چی نه له

له عربی منابعو څخه:

اشتباه

احمد او نه ئې له ساعت څخه اطلاع ولری، نو دهغه د ارسېدو سره سم ئې نور و ملګری د اسی خبری ورته کوی:

آیا د احمد ساعت دی لیدلی دی؟

- ولی مګر هغه څرنګه ساعت دی؟

- خیر، ولاړ سه او وګوره چی په انسانی مصنوعاتو کی یو عجیب او خارق العاده شی دی.

- دغه ډول دی؟

هو! ده ساعت پرته له دې څخه چی ثانیه، دقیقه او بجه معلومـوی، دغـه رنګه: ورځ میاشت او حتی کال هم ښوولای شی.

ښه دا نو واقعـاً ډېر عجیب شی دی.

دا لا څه کوې چی هیڅ کوک ته احتیاج نه لری، بلکی پخپله په اتومات ترتیب سره چورلی.

اوه! اوه څومره عجیب شی دی...

دغه رنګه د هـر ډول فشار سره مقاومت کوی او هم په اوبو او اور کی دلو بدلو څخه وروسته کوم ضرر نـه ورته رسېږی او

برسېره پردې احمد دسهار دلمانځه لپاره له خوب نه راپاڅولی شی او هـم په تیاره کی رڼا اولمعان لری.

احمد همدغه ساعت یوه ورځ دغرمی په وخت دمېز په خانه کی اینبی او خپله د لاس د پر پولو لپاره د باندی

وتلی ؤ، خو کله چی بیرته راغی ساعت پخپل ځای کی نه ؤ.

ددې خبر د خپرېدو سره سم ده دفتر ټول مامورین وارخطا او پرېشانـه سول ځکه د احمد ساعت پرټولو ګران ؤ.

په دفتر کی آرامی او کراری وه، هلته د غریبانو او بېوزلو وګړو د تګ او راتګ ځای نه ؤ، پدې دفتر

کی هیڅکله غلا نه وه پېښه سوی. ددې ځای مامورینو هـره ورځ خپلی کرتی ایستلی او پر کوټ بندونو

باندی ئې ځـړولـی، سره له دې چی ډېر قیمتی شیان لکه پیسی، قلمونه او داسی نـور پکښی وه، مګر هیڅ

ورځ کوم شی نه ؤ ځنی ورک سوی، نو دا پېښه څرنګه نن وشوه او دا ساعت ولی ورک شو.

ددفترمامورینو یووبل
ته په ترخو څېړو او زیړو
رنګو کتل، ددوی په وجود
کې وینه نه وه پاتې او تردې

اندازې پورې ژړ ګر-
ځېدلی وه چې تا به ویل
ټول ئې و برق ته نیولی دی
دوی وروسته له دې څخه چې

بیرته په خود شوه نو ئې
سمدستی د هغو کسانو په
یادونه شروع وکړه کوم چې
دفتر ته داحمد د غیاب په
وخت کې راغلی وه .

پدې کسانو کې «زهران»
هم شامل ؤ. زهران دهمدغه
دفتر هغه پیاده ؤ چې
همېش به ئې د ورځې په

۱۱ بجو ددفتر پر کارکوونکو
قهوه وېشله اودا هغه وخت
دی چې احمد له دفتر څخه
وتلی دی، زهران راغی او

لومړی پیاله ئې د «همام»
پر مېز باندې کښېښوولې
همام پدغه وخت کې له هغه
بقال سره په تیلفون کې

خبرې کولې چې کور ئې
دده د کور په خوا کې ؤ همام
دخپل هغه یوه زوی له صحت

څخه پوښتنه کول چې ډېر
سخت ناروغ ؤ، اوده به هره
ورځ نوی دوا ورته راوړه
او کله چې به دفتر ته راغی

نو به ئې هردم و همهغه بقال ته
تیلفون کولی ترڅو چې دده ښځه
او یا خادمه راوغواړی او دخپل
زوی د صحت په هکله خبرې ور
سره وکړی . همام د ډېرې دوا
اخیستلو له امله پورې وړی او
قرضدار سوی وو.

ددغه دفتر درې تنه نور مامو-
رین دخپلو کارونو په کولو بوخت
وه چې نه له خپله ځایه خوځېدلی وه.
اونه هم په غلا پوهېدلی وه او

یواځې هلته پدې پېښه خبر شول
چې د آرشیف یوه تن مامور و
دوی ته څو پاڼې مکتوبونه چې
نوی وارد سوی وه راوړه.

داحمد د غیاب په وخت کې
یو بل نفر هم دغه دفتر ته راغلی
او بیرته وتلی ؤ، داهغه سړی ؤ
چې په معمولی ډول سره په

میاشتې یوځلې دغه دفتر ته راتلی
او د دفتر کارکوونکو ته به ئې
دستمالونه، جرابې، قلمونه او
نکتائی ګانې د «غزې» له بازار

څخه راوړی، ددفتر کارکوونکو
هم پرده باندې شفقت درلود
ځکه دی یو سپین ږیری سړی ؤ چې
پخوا له دې څخه ددوی په څېر

مامور ؤ ، مګر کله چې متقاعد
شو، نو ئې دخپل معاش د حا-
صلولو لپاره پدغه مختصر تجارت
شروع وکړه، او ځینې دفترونه
به دخپل مال دخرڅولو په غرض

راتلې . دی یو صادق او امین
سړی ؤ او له دوی سره به ئې
په نقد ، او پور معامله
کوله مګر سره له دې ټولو

اوصافو ددفتر دمامورینو
پرده ګمان دغلا راغی ځکه
دی یو سوداګر سړی ؤ او ده ته
دیوه ساعت غلا کولو څخه

پداسې وخت کې چې هیڅوک
متوجه نه وی او بیا د هغه
خرڅونه کوم ګران او مشکل
کارنه دی ددې قرائینو له

مخې ئې سپین ږیری سوداګر
متهم او سړی ئې ورپسې
ولېږل.

سوداګر راغی، او کار-
کوونکو له ده څخه دساعت
غوښتنه وکړه، خو په یواځې
غوښتنه سره د سوداګر پر

ځان لېږزه پر پوته، او قسمونه
به ئې خوړل چې نه مې دغه
ساعت لیدلی، او نه مې اخستی
دی، او نه به هم په آینده

کې ددغه دفتر و دروازې ته
راشم، چې زه ئې پدې سپین
ږیر توب کې په غلا متهم
کړم.

دوی وروسته له دې څخه
د تهمت غشی و هغه مامور
ته متوجه کړ چې له آرشیف
څخه راغلی او مکتوبونه ئې
داحمد د غیاب په وخت کې

ودغه دفتر ته راوړی وه .

په پای کی تهمت یوازی و «زهران» تـه متوجه کړ زهران یعنی هغه پیاده چی

همیش بـه ئی د ورځی پر ۱۱ بجو د دفتر پر کار کوونکو قهره وپشله .

زهران په ټولو کی فقیر او مسکین ؤ، د دفتر خلکو پرده باندی ستر ګی سرې او دی ئی سخت تهدیـد کړ

خو زهـران ددوی ټـول تهدیدونه په شدت سره رد کړل . ددفتر له مامورینو سره بل هیڅ نه وه پاتی ځکه

دوی دخپلو مدعا د اثبات لپاره کوم دلیل پر زهران ندرلود ، ددوی ټولو په زړونو کی یوخجالت اوغم

پروت ؤ . دوی ټولو یو وبل ته د جرم په ستر ګه کتل که څه هم چی په ظاهره کی یوازی زهران متهم ؤ، خو

په حقیقت کی د احمد ستر ګو و ټولو تـه تهمت متوجه کړی ؤ ، او دوی ئی کم له کمه پدې خـو مقصر ګڼل

چی د خپلو ملګرو د غیاب په وخت کی ئی دده پر مال پام نه دی کړی .

احمد هم په زړه کی په پټه خوله ژړل ، مګر څه به ئی کړی وای ځکه چاره نه وه ، نو مجبور آئی ویل چی : زه ئی عوض له خپله خدای [ج] څخه غواړم .

پردې پیښی باندی خو درحی تېری شوې ، د احمد دا خبره تر یوې اندازې پوری هېره شوه خو زهران بیچاره ته یو دایمی غم او روحی فشار پاتی شوه ، ځکه ده پخپل ۳۰ کاله ملازمت کی کله

داسی خبره نه وو اورېدلی ، او نه پدغه موده کی له دغه دفتره کومه پاڼه ورکه شوې وه . دی همیش پدې فکر کی ؤ او هر چیر ته به ئی

دهغه پلټنه کوله تر څو چی یوه ورځ د یـو تـاجـر چـی د ساعتونو تجارت ئی کولی وموند زهران ډېر خوشاله شو او هغه

ئی په هر قیمت چی ؤ ، تری واخست او وروسته ئی نود تجار سره ملګری شروع کړه ، او په ضمن کی ئی د هغه سړی اوصاف ځینی وپوښتل

چی دا ساعت ئی پرده خرڅ کړی ؤ خو څه چی تاجر ورته بیان کړه معلوم شوه چی د ساعت غل همام ؤ همام یعنی هغه څوك چی پدغه دفتر کی مامور ؤ .

زهران دا خبره پټه کړه او ساعت ئی و احمد ته وسپارل .

زهران نه پوهیږی چی پدې کار سره ئی پخوانی تهمت پر ځان ثابت کړ ، مګر سره له دې هم ډېر خوشاله دی ځکه ده هغه توره وریغ له ټول دفتر څخه لیری کړه

چی پر هغه ئی خیمه وهلی وه .

او کله چی له زهران څخه د ساعت او دهغه دځای په هکله پوښتنه وشوه ، کله به چپ شو او کله به ئی له ځانه

یوه دروغه قصه ورته جوړه کړه چی دې خبرو هـم پخـوانـی تهمت لا پسی زیاتوله ، خو زهران بیا هم

خوشاله ؤ ، ځکه چی ساعت وخپل اصلی خـاوند تـه رسېدلی وو .

د شنبی ورځ وه سهار د حاضری مهال ؤ چی همام له نورو کار کوونکو وروسته په غمګینه بڼه دفتر ته ننوت

او د خپل مېز په خوا کی ئی په ژړا پیل وکړه ... ده په ساه نیولی بڼ کی کـرار کرار له ځانه سره ویل :

زما یو زوی ؤ ، هغه هم مړ شو او ما پرون ښخ کړ هغه مړ سو خو هلته مړ سو چی حرامه دوائی ګیلوی ته

داخله سوې وه . . ما وبخښه ای احمده ... ما عفوه کړه ای احمده ... زه مسکین یم .

ټول کار کوونکی دده وخبرو ته حیران او دده پر لوری متوجه ؤ ، او داسی

پرشعر یو تحلیلی نظر

د دوهم مخ پاته

سیاست کنډو کپړو کی مرموز او پرله پېچلی رنګ واخیست څوداؤ چی دجریاناتو داوښتنی په حکم په ادبیاتو او شعر کی هم نوی بدلون راغی .

په رومانتیک شعر کی هغه مهال چی دملی احساساتو په موج کی روان دی آتش مزاجی سته اودا برخه ئی دونه زیاته ده چی دوه لومړی اصلونو ئی تحت الشعاع دی خو کله چی د اجتماعی جریاناتو فشار خپلی وروستنی نقطی ته رسیږی نو آتش مزاجی ځینی ځی او د ساده ګی او بسیط والی ځای ئی دسمبولیزم بم حالت نیسی او د نفسانی لذت د مراعات پر ځای د سوریالسم ذهنی وحشت شعر ترګونډو لاندی کوی .

پدې پسی نو هغه مهال چی ریالسم د رومانتسیزم دعکس العمل په شکل منځ ته راځی ، د تاریخ او زمان جبر دا ادبی موسسه د ځای تابع کوی او دهغه د مختلفو ښاخونو په جمله کی پر شعر دا اثر لویږی چی دملتن درې سره اصله پکښی مراعات شی او دا نو لومړی ځل دی چی د ملتن اصول په ریالستیک اسلوب کی ځان په کامل واقعیت څرګندوی .

کله چی په شعر کی دملتن درې اصله تطبیق شوه دا مهال نو د شعر څخه دیوې عالی غایی په لار دیوې وسیلی په حیث استفاده وشوه او دا غایه نو دژوند لپاره دهنر استخدام دی چی د ټولنی دسیستم په کمال کی کار ځینی اخیستل کېدای شی . «پای»

د ۲۸ مخ پا ته برخه

ګمان به ئی کول چی دی د زوی دمرګ له کبله لېونی او د اعصابو په مرض اخته سویدی، دوی دده دخبرو په حقیقت نه پوهېدل .

زهران ددروازې په خوا کی ولاړ او د همام خبری اوری . زهران دده دخبرو په معنا پوهیږی خو هیڅ نه وایی او چپه خوله ورته ګوری، دی نه غواړی چی د همام دا سهوه او لغزش ښکاره کړی او نه غواړی چی د زوی له غمه سره بل غم هم د همام په غاړه واچوی .

KANDAHAR
MONTHLY MAGAZINE
OFFICE:-
PRESS DEPARTMENT
KANDAHAR, AFGHANISTAN
EDITOR: ZALMAI 'BARAK'
(AUGUST)1968
GOVERNMENT PRESS

د امتیاز خاوند: د طلوع افغان نشراتی مؤسسه
مسئول مدیر: زلمی (بارک)

کندهار
میاشتنی خپرونه
تاریخی، اجتماعی، علمی، ادبی
اداره: د شهیدانو واټ
د تاسیس کال ۱۳۳۹
د ۹ کال پنځمه ګڼه

کالنی بیه
په کندهار کی [۲۸] افغانی
دهیواد په داخل کی [۳۲]
په دباندنیو هیوادو کی یوډالر
پر له پسی ګڼه ۹۵

د کندهار دولتی مطبعه